محمدنعمان دوست

۲۰۲۶/۰۸/۱۱

# د خپلوبزگرانو او بنوالو د سترِیا په قدر پوه شئ

د خدای بخښلي عبدالکريم اکا دغه کيسه مې اوس هم ياديږي او خوښيږي:
هغه وخت چې کليو کې دوکانونه، نه ول؛ ځينو خلکو به په شا او يا په څارويو مواد راوړل.
اکا مې په هغه ورځ له همدې ګرځنده هټيواله څه شی اخيستي وو. کور کې يې ورته ويل: نو دا دې څه کول؟ دا خو شته کنه. هغه ورته ويلي و: پوهيږم؛ خو خبره دا ده چې دا بيچاره ګان زموږ په تمه په سترِيا سوداوې راوړي او چې موږ يې ترې وانخلو؛ نو څوک به يې واخلي؟

اوس کيسه دا ده چې بپوسه او خواريکښ بنوال او بزګران مو، په ډېرو ناځيزه امکاناتو زموږ په تمه ځانونه سترِي کوي او حاصلات چمتو کوي؛ نو چې موږ يې ترې وانخلو؛ څوک به يې واخلي؟ زموږ پيداوار خو د ګاونډي د آمونو په څير بختور هم نه دي چې آن قاچي مو بازارونو ته دومره ډېر را روان دي چې ټول دکانونه پرې ډک دي.

د ميوه جاتو تر ټولو غوره مصرف ځای، په هوټلونو کې د ښاديو پروګرامونه دي. خو هلته هم د خپل وطن د پرېمانه موسمي خوندورو ميوو ځای خارجي مالټو او کېلو نيولی وي.

هوټلونو والاو کې دا احساس نشته چې د خپل وطن توليد ته لومړيتوب ورکړي او د خپلو بنوالو او بزګرانو د سترِيا قدر وکړي؛ دا ځکه چې ممکن د بيرونيو ميوو په استعمال کې يې ګټه ډېره وي.
د ښاديو والا مسؤلين هم دې ته پام نکوي او د وطنيو توليداتو فرمايش نه ورکوي.
درونډ مشر او ټولنيز شخصيت ښاغلی اسدالله نيازي صيب، مې په دې هم خوښ دی چې د وطني توليداتو ټکره ملاتړی دی.

دا څووم ځل دی چې د ښاديو د پروګرامونو واک ور سره وي؛ نو هوټل والا سره يې جنجال وي او تر هغې جنجال جاري ساتي چې ترڅو يې د خارجي ميوو په ځای وطني نه وي جبري کړي.
که څه هم د وطني ميوو د کاروني په پار رسمي پرېکړه شوې ده؛ خو دا پرېکړه هم د پټاقيو د نه کاروني د حکم په څير، د هوا په څپو کې ورکه ده.

اوس زموږ تجارتي اړيکي له نورې نړۍ سره پيکه دي، دهقانان، باغداران او د ميوو سوداګر مو بهرنيو مارکيټونو ته لاسرسی نه لري؛ نو په کار ده چې هرڅوک په کور دننه د خپلو حاصلاتو ملاتړ وکړي. که دا ملاتړ نه وي، زراعتي سکتور به مو ناهيلی شي او خدای مکړه په ډېرو کړاوونو جوړ باغونه او پاليزونه به مو په سپېرو دښتو بدل شي.

د خارجي ميوو فرمايش او کارول بې خونده ځان ښودنه ده.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکې په څير و لولئ